مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

مصطفی پسرلی ۲۰۲۰/۰۹/۲۰

# غزل

حُسن دې ځان سره ثواب راوړی
مینې دې بیا راته شراب راوړی

لکه سکروټه په اېرو کښې پټه
پټ په پرده کښې دې ګلاب راوړی

د تورو زلفو په دې تور ماښام کښې
تا له نغمو سره رباب راوړی

ګډ د یوسف د مینې شور دی پکښې
چې زلیخې تعبیر د خواب راوړی

د لیلا سرې غمبورې اور لګوي
جوړو لمبو یې سور سیلاب راوړی

چې لونګین دې زانګې غاړه کښې تل
ژوند د خوندونو نوی باب راوړی

په زړه دې څه دې پسرلېه وایه
ستا هر یو سوال ته مې ځواب راوړی

مصطفی پسرلی
19/09/2020


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالې د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ